مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۳/۰۷/۱۸

# «ملت»، «ملي» او پاکیستاني تکفیر

نن و پرون له بااحساسه افغانانو سره یوه اندېښنه دا راپورته شوې، چې ولې افغان استادان و متخصصین تبعید شول او دا دی پر ځای یې اوس پاکیستاني استادان(!) رابلل کیږي، چې دلته استخباراتي ځالي جوړې کړي.

تاسو کله د ښمنده نیواک (اشغال خزنده) اصطلاح اورېدلې؟ یا مو پرې فکر کړی؟

د ایډیولوژی په باروتو مست بهاند او ښمنده نیواک د ملي تفکر بنسټونه ړنګوي، ملتپال تفکر د هر دوښمن په وړاندې درېدلای شي، خو هغه دوښمن چې د تکفیر په وسله سنبال وي ډېر ګواښمن دی، دا دوښمن «ملت» او «ملي» مفهوم د کفر په غشیو ولي.

ښایي څلور کاله مخکې به و، چې په کابل کې مې د ګڼو دوستانو په یوه ناسته کې دا اندېښنه راپورته کړه، چې دا ځل د ګاونډي دوښمن اصلي دوښمني له افغان ملتپالنې او ملتپالو سره ده او که نیابتي لښکر یې واک ومومي، نو په لومړي ګام کې به ملتپال افغانان ووژني یا به یې تبعید ته اړ کړي، (په هغه ناسته کې یو شمېر دوستان، چې دا پاڼه ګوري، خامخا به یې زما دا اندېښنه په یاد وي) له بده مرغه دا اندېښنه رېښتیا شوه.

پاکیستاني نیواک د دین په زور خپل کار کوي او ګام ګام راخښېږي، مدرسه وال دېنچاري یې وخته راغلي، سبا به یې استادان راشي او بله ورځ به یې په بدلو جامو کې کرنیلان و جرنیلان. دا هرڅه به د دین په بالاپوش کې راځي، «مسلمان ورور»، «انصار»، « د جهاد او هجرت» ملګري...

دا خبره احمقانه ده، چې: « موږ څوپنځوس ملکونه وهل، نو پاکیستان څوک دی؟...» پاکیستان هم له څو پنځوسو هېوادونو سره توپیر لري، هم له انګریز و روس او امریکا سره. دا نور اشغالګر تول کفار وو او د دوی په وړاندې د ولس کرکه هم دیني وه، له بده مرغه ملي نه وه، که ملي وه هم ډېره کمزورې وه او پر ملتپال تفکر ولاړ مخالفان یې بېرته د همدې اشغال بنسټپالو افراطیونو هلته و دلته وژل، دا پخپله اوږده کیسه ده.

پاکیستان چې راننوځي، نو د دین په نامه راننوځي او بله دا چې پاکیستان د نورو اشغالګرو پر خلاف د افغانستان خاوره لاندې کړې ده، د افغانستان ځمکنۍ دعوا یې ښمنده نیواک او په افغانستان کې ملي تفکر ځپلو ته اړ باسي.

همدا سبا که دغه تاریخي دوښمن د «اسلامي ورورولی» په نامه د وطن حساس دولتي بنسټونه لاندې کړي او بیا د فکر روزنې بنسټونه (پوهنتونونه او ښوونځي) ونیسي، کوربانه یې توجیه کړي، چې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

مسلمان سکالران دي او ورو ورو دا نیواک راڅښیږي او وطن درنه لاندې کړي، سبا خپل تاریخي هدف ته ځان ورسوي او افغانستان له ځان سره کانفیډریټ کړي، نیابتي ډله یې ملت ته ووایي، چې خوښ اوسئ؛ یو مسلمان اتومي هېواد مو ملګرتیا کوي او په نږدې کې به د دوی په مرسته د اسلام بیرغ رپوو .هاخوا به څو شیخان په قرآن لاس کیږدي، چې کوربان یې شم پلانی او بیستانی مو په خوب لیدلي، چې راته وایي: مسلمان ورور ګاونډی در پرېږدئ، چې دین ځواکمن شي او د داسي خوبونو سلسله روانه وي، بیا به نو څوک وي، چې په وړاندې یې ودریږي؟

ملي احساسات د هرڅه په وړاندې راپاریږي، مګر هغه څه چې د دین په نامه پېښیږي، هر ډول ملي حس ځپي.

ګڼ هغه ښاغلي چې د ملتپالنې ډېرې پر تېتر موښي همدا اوس د پاکیستاني نیواک په وړاندې غلي دي، ځکه له تکفیره ډاریږي .د لوی افغانستان سرسپارلي سپاهیان هم له تکفیره ډار شوي دي او خدایزده دا ورځې چېرته ننوتي، چې له ډېرو غږ خیژي، خو له دوی نه؟

له شاهي واکمنۍ بیا تر داوودخاني جمهوریت و د حزب دیموکراتیک تر واکمنۍ پورې په دې ټوله زمانه کې به چا دا تصور کولای شو، چې یو مهال دې واکمن خپل وطني استادان وشړي او پاکیستاني هغه دې راوبولي؟

اوس هغه ملي احساسات چېرته دي؟

ولې دا اعتراف نه کوو، چې ټول له تکفیره ډاریږو؟

په دې اړه ولې غږ نه پورته کیږي؟

د افغانانو هغه ملي غیرت چېرته دی؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ